# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# د کلیسیا پیدایښت

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.





کله چې عیسی مسیح په سولۍ شو او د سولۍ کېدو نه پس مړ شو نو د هغهٔ یرېدونکی مریدان خاموشه شول. کله چې عیسی مسیح د مړو نه بیا راژوندے شو نو عیسی مسیح خپل یو شاګرد ته څرګند شو. عیسی مسیح ژوندے وو! خو عیسی مسیح د هغهٔ خوانه د تلو اراده کوی. هغهٔ آسمانه ته واپس تلو چرته چې هغه خپل پلار سره همېشه وو.


د هغهٔ د
تلو نه
مخکښې،
عیسی
مسیح خپلو
مریدانو سره
وعده کوی
چې هغه به د
هغوئ د تسلی او
مدد د پاره د خدائ پاک روح
راولیږی. وخت نزدې وو! د عیسی مسیح د تلو نه
یو څو ورځې ورسته، د خدائ پاک روح راځی.
3


بیا داسې وشول، عیسی مسیح تقریباً یو سل او شلو مریدانو
سره په یو کور کښې یو ځائ دعا کوله. ناڅاپه یوه تیزه هوا
راغله او هغه کور ترې نه ډک شو.
4


د هر یو کس د سر د پاڅه د اور شغلې ولاړ وې. او هغوئ
ټول د روح القدوس نه معموره شول. هم هغه شان لکه
څنکه چې عیسی مسیح وعده کړې وه!
5


بهر په سړکونو باندې د عیسی مسیح مریدانو داسې
ژبو کښې خبرې کولې، چې هغه ژبې هغوئ له کله هم
نهٔ ورتللې. په یروشلم کښې د پردی ملک شاګردانو په ډېرو
ژبو کښې د خدائ پاک په د لویو کارونو په
حقله خبرې
واریدلې.
6


هغه مسافر حیران شول. د دې څهٔ معنې هم کیدے شی.
هغوئ وائی. چې دوئ د نوو میو په نشه کښې دی، تر دې
چې هغوئ به په هغوئ پورې خنداګانې کولې.
7


خو پطرس وائی، هغوئ په نشه کښې نهٔ دی...هغوئ هغه
دې د چا په باره کښې چې یوئیل نبی فرمائیلی وو... پطرس
بیا هغوئ ور یادوی چې ډېر کالونه مخکښې، خدائ پاک
وعده کړې وه چې روح القدوس
به د خلقو د مدد او هغوئ له
د برکت ورکولو
د پاره راشی.
8

پطرس خلقو ته ووئیل چې تاسو د خپلو ګناهونو نه توبه وباسئ او د عیسی مسیح په نوم باندې بپتسمه واخلئ. تاسو له به روح القدوس په انعام کښې درکړے شی. پطرس ووئیل، چې تقریباً درې زره خلق تابعداری کوی. هغوئ به د عیسی مسیح د منونکو په طور د هغۀ په شاګردانو کښې شامل شی.




9

روح القدوس د خدائ پاک د خلقو په ژوند کښې خپل قدرت راولی. یوه ورځ، پطرس او یوحنا یو ځائ د خدائ پاک کور ته د دعا د پاره ځی. نو د خدائ د کور په دروازه کښې یو شل سوالګرے ناست وو. هغه د پطرس او یوحنا نه خیرات غواړی.



10

پطرس ووئیل، ما سره خو څۀ سرۀ زر سپین زر نشته دے خو څۀ چې ما سره دی نو زۀ هغه تا له درکوم. هغۀ هغۀ ته حکم وکړو چې د عیسی مسیح په نوم باندې پاڅۀ او وګرځه، هغۀ د هغۀ ښے لاس ونیولو او هغه یې راپاڅولو هغه پاڅېدو او ودرېدلو او وګرځېدو او د خدائ پاک حمد او ثنا یې ووئیله او هغوئ سره د خدائ پاک کور ته لاړو.



11

یو ډېره لویه ګڼه راجمع شوه، او د هغوئ په دې معجزه باندې حېران شول. پطرس هغوئ ته ووئیل چې دا د خدائ پاک قدرت دے. د هغۀ خپل قدرت نۀ دے چا چې دا شل سړے روغ کړو.



12

کله چې پطرس یهودیانو ته دا را په یادوی چې خدائ پاک عیسی مسیح د مړو نه راژوندے کړلو. نو د مالک خدائ د کور سردار غصه شی او پطرس او یوحنا ګرفتار کړی او هغوئ په قېد خانه کښې واچوی. تقریباً په دغه وخت کښې پینځۀ زره خلقو په عیسی مسیح باندې ایمان ساتلو.



13

په ورپسې ورځ، پطرس او یوحنا هغه سردارانو ته پېش کېږی. او هغه سردارانو ترې نه پوښتنه وکړه چې تاس دا په کوم قدرت، یا د چا په نوم سره تاسو داسې وکړل.



14



پطرس چې د روح القدوس نه معموره وو ډېر په بهادرۍ
سره جواب ورکړو. د عیسی مسیح په نوم باندې څوک چې
تاسو په سولۍ کړے دے او خدائ پاک هغه د مړو نه بیا
راژوندے کړے دے. نو د هغهٔ په نوم
باندې دا سړے ستاسو په وړاندې
روغ جوړ ولاړ دے.

15



پطرس په بهادرۍ سره خپلې خبرې جارې وساتلې. د آسمان
نه لاندې بل یو نوم هم چا له نهٔ
دے ورکړے شوې چې د هغهٔ
په وجه باندې مونږ خلاصون
ومومو. دوئ نهٔ غواړی چې خلق
په عیسی مسیح باندې ایمان
راوړی، هغه سردارانو
پطرس او یوحنا له سختې
دهمکیانې ورکړې چې
د نن پس به تاسو چا
سره هم د عیسی مسیح په
باره کښې خبرې نهٔ کوئ.

16



پطرس یو ځل د
عیسی د پاره په
ودرېدلو باندې
ویرېدو. خو دا د
روح القدوس
نه د راتلو نه
مخکښې وو. اوس
څوک هغه نهٔ
شی یرولے.

17



پطرس او یوحنا جواب
ورکړو، آیا د خدائ په
نظر کښې دا صحیح
دی چې هغه د خدائ
پاک نه زیات ستا
واوری، تاسو فېصله
وکړئ. ځکه چې څهٔ
هم مونږ لیدلی او
اورېدلی دی، مونږ د
هغې نه زیات هیڅ هم
نهٔ شو وئیلے.

18



د نور زیات
یرولو او دهکیانو
ورکولو نه پس،
سردار پطرس او
یوحنا پرېښودل.
د خدائ پاک
بهادرانو بندیانو
خپلو ملګرو ته د
جیل او عدالت په
باره کښې هر څهٔ
ووئیل.

19



بیا هغوئ یوه لویه
غونډه جوړه کړه
چې په کښې دعا او
د خدائ پاک حمد او
ثنا ووائی. نو یو ځل
بیا د خدائ پاک
روح القدوس خپلو
خلقو له طاقت
ورکړو. او کمزورو
جماعتونو هم ډېره
وده او ترقی وکړه.

20




55

60

22

د کلیسیا پیدایښت

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

اعمال ۱ ــ ٤

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."
زبور 130:119

21

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وایې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

23